# هلمند کې د امنيت د لېږد په اړه غبرګ احساسات

**Author:** Gol Ahmad Ehsan

افغانان د امنيت د کنترول په تر لاسه کولو کې د خپل راتلونکي ټيکاو په اړه له ډاره سره سره خوښي څرګندوي.

**په افغانستان کې د آی ډبليو پي آر د خبريال، ګل احمد احسان ليکنه**

**هغه مهال چې برتانوي ځواکونو د هلمند په ولايت کې امنيتي کنترول افغان اردو ته وسپاره، د سويلي ناکرار ولايت اوسيدونکو له خوښ او انديښنو څخه په ډکو احساساتو ددې تاريخي خوځښت هرکلی وکړ.**

**افغان درې رنګه ملي بيرغ  د جولای په ۲۰ د امنيت د لېږد د مراسمو د پرځای کولو پر مهال د ولايتي مرکز، لښکرګاه  د هټيو او ودانيو دپاسه رپيده.**

**افغان ځواکونه په خپل ټول زور او قوت راوتلي و، چې د ليږد د مراسمو امنيت ونيسي. د امنيت د ټينګولو موضوع  ځکه ځانګړی اهميت درلود، چې هلمند، د نړ د هيروينو د توليد تر ټولو ستر مرکز، له اوږدې مودې راهيسې د طالب ياغيانو او د ناتو تر مشر لاندې امريکايي او برتانوي پوځونو تر منځ د درندو جګړو ډګر دی.**

**د هلمند والي، محمد ګلاب منګل يادونه وکړه، افغان  ملي اردو په داسې وخت کې امنيت په خپلو لاسونو کې اخلي چې لا د ولايت دوه ولسوال، په سويل لويديځ کې ديشو او په شمال کې باغران تر اوسه د طالبانو په لاس کې دي.**

**منګل پر افغان او بهرنيو سرتيرو غږ وکړ چې د ياغيانو د راتګ د شنډولو په موخه له پاکستان سره ګډه پوله ټينګه کړي. نوموړي زياته کړه: «که د هغوی د راتګ مخه ونه نيول شي، نو په هلمند کې به د سولې د تامين کار ستونزمن شي.»**

**د  مراسمو په لړ کې د امنيت د لېږد مسؤول، اشرف غني احمدزي وويل، ملي اردوو او ملي پوليس ښه سنبال او روزل شوي، ترڅو وضعه ترخپل ګورت لاندې وساتي.**

**هغه وويل: «زموږ حکومت پخپلو پښو ودريږي. زموږ پوليس تر پخوا زيات مسلکي شوی دي. په راتلونکو دريو کلونو کې به په هلمند کې په امنيتي چارو ۷۶۵  مليونه ډالر ولګول شي.»**

**د ولايت د امنيې قوماندان محمد حکيم انګار خلکو ته ډاډ ورکړ چې په لښکرګاه او د ولايت په نورو برخو کې به د امنيت د ټينګولو په اړه له هيڅ راز هلو ځلو څخه ډډه ونشي.**

**هغه وويل: «افغانانو ثابته کړه، چې آن په خالي لاسونو، د خپل هېواد ساتنه کولای شي. زموږ پوليس سنبال شوي. څه شي ته چې اړتيا لرو هغه درنې وسلې او مهمات دي.»**

**کله چې افغان ملي سرود وغږول شو بیرغ په رسمي ډول له ناتو څخه افغان ځواکونو ته ورکړ شو او نړیوال پوځونه له ښاره ووتل. د زیات شمېر ننداړچیانو په سترګو کې له ډېرې خوښۍ اوښکې راغلې.**

**شپېته کلن کمال خان د پګړۍ د شملې په پیڅکي خپلې اوښکې پاکې کړې او ویې ویل: «دا زما د ژوند ارمان و چې بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي. موږ ازادی ترلاسه کړه. که خدای جل جلاله کول دا د هغې پیل دی. هیله ده تر هغه ژوندی اوسم چې د افغانستان خپلواکی په خپلو سترګو وګورم.»**

**بسم الله چې د لښکرګاه له ښار څخه بهر راغلی او په ښار کې کار کوي، هم په ورته ډول خوښ و.**

**هغه وویل: «نن زما د ژوند ډېره ښه ورځ وه .... هرچا ته څرګنده شوه چې موږ د بل چا تر لاس لاندې نه یو. موږ خپلواک یو. که بهرني ځواکونه خپلې مرستې بیخي ودروي، نو وتل به یې زیانمن وي. خو که خپلومرستو ته دوام ورکړي موږ تر دې کچې ځواکمن شوی یو، چې مخکې تلای شو.»**

**بسم الله وویل، اوس د افغان چارواکو دنده چې د خلکو باور پر ځان پیدا کړي. «د بري یوازنۍ لار له خلکو سره د ښه چلن لار ده. دا کار یو څه ښه شوی، خو نور ډېر کار ته اړتیا لري.»**

**محمد اقبال، چې په ښار کې درملتون لري، د احتیاط یوه خبره زیاته کړه، ویې پوښتل چې آیا افغان پوځونه ددې جوګه دي د اوږدې مودې لپاره امنیت تضمین کړي او که نه.**

**هغه وویل: «اوس چې په لښکرګاه کې [د امنیت] د لېږد بهیر سرته رسیدلی، زما اروا د ازادۍ احساس کوي، ځکه زه د بهرنیو پوځونو په پرتله پر خپلو خلکو ډېر باور لرم. لږ ترلږه هغوی کورونو ته نه ننوزي او په خوب کې بېګناه خلک نه وژني. لږ ترلږه هغوی ستا خبرو ته غوږ ږدي.»**

**هغه زیاته کړه: «څنګه چې زموږ اردو او پولیس درنې وسلې او هوایي ملاتړ نه لري، اوسنۍ وضعې ته په پام ښایي ځینې ستونزې رامنځته شي.»**

**اقبال یادونه وکړه، [د مسؤولیت] لېږد طالبانو ته نیغ په نېغه یوه ننګونه وه.**

**هغه وویل: «که چېرته په رښتیا هم طالبان له بهرنیو پوځونو سره جنګېدل، باید پر هغو سیموبریدونه، ونه کړي، چې تر دې وروسته پکې بهرنیان نشته. که چېرته بیا هم خپلو بریدونو ته دوام ورکړي، نو ددې معنا به ولري چې هغوی د افغانانو دښمنان دي. اسلام او جهاد هسې یوه بهانه ده، چې دوی یې په خوله راوړي.»**

Pakistan **:Location**
افغانستان
Conflict **:Topic**

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D9%87%D9%84%D9%85%D9%86%D8%AF-%DA%A9%DB%90-%D8%AF-%D8%A7%D9%85%D9%86%D9%8A%D8%AA-%D8%AF-%D9%84%DB%90%DA%96%D8%AF-%D9%BE%D9%87-%D8%A7%DA%93%D9%87-%D8%BA%D8%A8%D8%B1%DA%AB-%D8%A7%D8%AD%D8%B3%D8%A7%D8%B3%D8%A7%D8%AA